# د کورنۍ ژبې سروې

ګران پلار یا مور/ساتونکی (ساتونکي):

ورمونټ د هر ډول کلتوري او ژبنیز شالید لرونکو کورنیو ته هرکلی وایي. له یوې څخه زیاتې ژبې ویل د وګړو، کورنیو، او ټولنو دپاره یوه ارزښتناکه اثاثه ده. مونږ کورنۍ دې ته هڅوو چې د انګلیسي زده کولو په اوږدو کې خپلې ژبې پرځای وساتي. ستاسو د کورنۍ او زمونږ د ښوونځي ترمنځه د غوره مخابرې او اړیکې یقیني کولو لپاره، مهرباني وکړئ مونږ ته خبرتیا راکوئ که چیرې تاسو کومې پوښتنې لرئ او/یا د دې سروې یا د ښوونځي د نورو مهمو خبرتیاو په اړه د ژباړنې خدمتونه غواړئ.

د ټولو زده کوونکو د ننګوونکي پوهنیز معیارونو پوره کولو لپاره، فدرالي قانون دا اړینوي چې دولتي ښوونځي هغه زده کوونکي په ګوته کړي کوم چې د انګلیسي ژبې د ملاتړ د خدمتونو ورتیا لري. له وړکتون څخه تر 12 ټولګي پورې د نوي داخل شویو زده کوونکو پلار یا مور/ساتونکی باید د نوم لیکنې په وخت د سروې پوښتنې (لاندې) بشپړې کړي. کېدی شي، که اړتیا وي، د انګلیسي ژبې زده کوونکي (EL) متخصص د نورو مالوماتو غوښتنه وکړي، ترڅو دا مالومه کړي چې آیا ستاسو د زده کوونکي د انګلیسي ژبې زده کوونکي (EL) په توګه درجه بندي وکړل شي او د اضافي خدمتونو ترلاسه کولو ورتیا لري.

ستاسو څخه مننه کوو چې دا فورمه مو بشپړه کړه! مهرباني وکړئ باوري اوسئ چې د دې سروې مالومات یوازې د ښوونیزو موخو لپاره کارول کېږي، ترڅو هغه احتمالي انګلیسي زده کوونکي وټاکل شي کوم چې د انګلیسي ژبې د ملاتړ لپاره ورتیا لري.

| **د زده کوونکو مالومات**<br>**(پلار او مور/ساتونکي باید دا برخه بشپړه کړي.)** | | | |
|---|---|---|---|
| لومړی نوم: | آخري نوم: | د زیږېدنې نېټه<br>(میاشت/ورځ/کال) | جنس:<br>☐ **ښځینه** ☐ **نرینه** |
| د زیږیدنې هېواد: | متحده ایالتو ته د راتلو نېټه (میاشت/ورځ/کال): | هغه نېټه چې زده کوونکي په لومړي ځل د متحده ایالتو په کوم ښوونځي کې **وړکتون (یا لوړ ټولګی)** پیل کړ<br>(میاشت/ورځ/کال): | |

| **د پلار او مور/ساتونکو دپاره پوښتنې** | **غبرګون** |
|---|---|
| 1. ستاسو په کور کې کومه ژبه (ژبې) ویل کېږي؟ | |
| 2. تاسو د خپل ماشوم سره **زیات وخت** کومه ژبه وایئ؟ | |
| 3. ستاسو ماشوم په کور کې اوسمهال زیاتره کومه ژبه (ژبې) وایي؟ | |
| 4. د پلار یا مور/ساتونکي اصلي ژبه کومه یوه ده؟ | |
| 5. ستاسو ماشوم په لومړي ځل کومه ژبه ویله یا پرې پوهېدو؟ | |

| یوازې د **LEA** کاروني دپاره: |
| --- |
| زده کوونکی **به** کوم ښوونځي ته ځي؟ |
| زده کوونکی به په کوم ټولګي کې داخلیږي؟ |
| په دې ښوونځي کې د پیلولو نېټه (میاشت/ورځ/کال): |
| د انګلیسي ژبې وړتیا دپاره د دې ماشوم ازموینه ترسره شوه او **د انګلیسي زده کوونکی (EL)** وټاکل شو؟* **هو / نا**<br><br>د ازموینې د اداري چاروکي نوم:<br><br>د زده کوونکي د ازموینې نېټه: |
| که د انګلیسي زده کوونکي په توګه نه وي ټاکل شوی، نو آیا دا زده کوونکی د "**کډوال ماشومان او ځوانان**" د ESSA په تعریف پوره دی؟ **هو / نا**<br><br>د ESSA ترمخه، د 'کډوال ماشومان او ځوانان' اصطلاح مانا هغه وګړي دي کوم چې –<br>"(A) له 3 کلن څخه تر 21 کلن وي،<br>"(B) په کوم ایالت (په ګډون د پیورټو ریکو) کې نه وي زیږیدلی، او<br>"(C) د 3 څخه زیات بشپړ پوهنیزو کلونو دپاره په یو یا زیاتو ایالتونو کې یوې یا زیاتو ښوونځیو ته نه وي تللی." |

*LEAs باید یوازې د HLS د ټولولو سایټ وکاروي او VT-AOE ته د هغه زده کوونکو HLSs وړاندې کړي کوم چې:
1. د انګلیسي ژبې د متخصصینو له خوا د انګلیسي ژبې د وړتیا دپاره ازمویل شوي وي او د انګلیسي زده کوونکو (ELs) په توګه ټاکل شوي وي، او/یا
2. د "کډوال ماشومان او ځوانان" د تعریف ترمخه د شمېرلو وړ په توګه ټاکل شوي وي.